*Intervention 2010, Volume 8, Number 2, Page 182 - 183*

# Summaries in Pashto

**١. روحي فشار او دنړیوالی مرستندویه ټولنو کارکوونکو لپاره دمرستي کړنلاره( Penelope Curling & Kathleen B. Simmons)** :دامضمون هغه مسایل څیړی چې دمرستندویه ټولنو کارکوونکی په کی کارکوی او همدارنګه ددی کارکارکوونکو لپاره دمرستی په لارو چارو غور کوی.دامضمون ددوه سروی ګانو لاسته راوړنی هم پر تله کوی چې یوه یی په ۲۰۰۳ او بله یی په ۲۰۰۹ کال کی په یوه موسسه کی ترسره شوی دی

دامضمون دهغه ارزیابی پایله وړاندی کوی چې د کلیدی مسایلو په هکله دبشری مرستندویه کارونو په ساحوکی شویدی ، د پایلو تجزیه اوتحلیل په فرعی ګروپو نو کی، او پرتله کوی هغه کارکوونکی چې په سختو حالاتو کی کارکوی دهغو سره چې په نسبتاً خوندی ځای کی کارکوی دښځی او نر په نظر کی نیو لو سره. بلاخره دامضمون مونږته دیو تعداد کارکوونکو سره دمرستی دکړن لاری لنډیز وړاندی کوی.

کلیدی الفاظ: دنړیواله مرستندویه بشری خدمتونه، روحی فشار،دحل میکنیزم، کارکوونکو سره مرسته،دکارکوونکو روغتیا او د مګرو سره دمرستی پروګرام.

---

**٢.حرکات،لوبې او سپورت په روحي ټولنیزو مداخلو کي: یو جدی بحث ددوی په قوت او محدودیت په همکاری کی د ودی په هدف (Clemens Ley & Maria Rato Barrio)**:

دامضمون د حرکاتو،لوبو او سپورتونو په ګډه استعمال باندی دودی په خاطر د بیا رغوني د جګړی وروسته حالاتو، زور زیاتی، آفاتو کی بحث کوی. که مونږ په ریښتیا وغواړو چي مثبته پایله لاسته راوړو د حرکاتو،لوبو او سپورت څخه باید دیوی وسیلی په شکل استعمال او دیوی منظمی او معلومی کړنلاری سره په اساس دمعلوم مقصد ،محلی حالاتو او په اساس د ضرورت، علاقه اوتر مشری لاندی د برخه اخستونکو. په روحي او ټو لنیزو مداخلو کی سپورت لا ډیر قوی دی کله چي د نورو فعا لیتو نو لکه تعلیمی او تداوی مداخلو سره یو ځای استعمال شی. سره دیو ځو په زړه پوری پلټنو چي مونږ پري خبري وکړي، مونږ لا اوس هم دعملی کړنلارو په تلثیرباید ځان وپوهوو.مو نږ دلته دیو څو کلیدی عوامل او اواړخونو نتیجه ګیری کوو چي دیوی موثری پروژی په جوړولو کي او د حرکاتو،سپورت او لوبو موثریت په روحیي ټولنیزو مداخلوکي برخه لری. او دلته مونږ باید دمداخلو او برخه اخستونکو ترمنځ په اړیکو هم رڼا واچوو.

**کلیدی الفاظ**: حرکات،لوبی، سپورت،روحی ټولنیزه مداخله،جنجال او تاو تریخوالی.

**٣. روحانی او روانی روغتیا په بشری مرستندیه حالاتوکي:یوه پلټنه دهایتی دزلزی ته په غبرګون کي، د World Vision لخوا**:دغی نړیوالی غیردولتی موسسی دزلزله ځپلو ، دموادو او ضروری کړنو ترمنځ اود متا ثرینو دروحانی او روانی اوټولنیزو اړتیاوو ترمنځ یوه مهمه تشه رابښکاره کړه.
سره ددی چي دزیاتو ټکو عملی شواهد وه چي روحانیت کولی شی فایده مند تاثیر په روان ، اروحی ټولنیز ه روغتیا لری، خوبیاهم ډیر لږ لاربښونی او هم نظری دروحی او روحانی لارو چارو په اړه په بشری مرستندویه وختونو او ځایونو کی شته دی.دا ځانګړی ډول د عاجلو مرستو په رسولو کی په هایتی کی چی چیرته مذهب او عقیده په کلتور باندی بر لاسی دی. دا حالت دعملی او اخلاقی مسایلو سبب ګرځی.کلیسا، مذهبی راحبان او د خلکو روحانیت مهمی ساحی دی چي و پلټل شی په ځانګړی ډول دروانی روغتیا او روحی ټو لنیزمرستی په دایره کی.

**کلیدی الفاظ:** روحانیت، روحانی تغذیه، روح روحانی، عقیده او ها یتی.

---

**۴.. روانی مرستی د فمسطینی خلکو لپاره**: یوه تجزیه ( لخوا MFS) دهغه ارقامو چي په اشغال شوی فلسطین کی دروانی ناروغیو په اړه شوی. دال اقصا دانتفادی له پیله دفلسطینینانو په ورځنی ډول دغمجنو پیښو سره مخ کیږی چي ځینځ لا مزمنو روانی ناروغیو ته تللللی.MFS یوه غیردولتی موسسه ده چي دی خلکو ته طبی او روحی مرستی برابروی په استعمال د یو ډول روحی تداوی چي دخلکو درسم او رواج سره برابره شوی.دا مقاله هغه د ۱۷۷۳ ماشومانو او کا هلانو ارقام وړاندی کوی چي ۲۰۰۰ او ۲۰۰۶ کال په منځ کځ داتداوی ترلاسه کړه د غزی په تړانګه او لویدیځه غاړه کي. نیم ناروغان د ۴ او ۱۴ کلونو ترمنځ ماشومان وه. روحی تداوی والا شپږ غونډی ترسره کولی. په آخرکی ښګاره شوه ٪۸۰ بیماران ښه شوی وه. ددی مضمون لیکوال وایی چي داډول روحی تداوی ، دفلسطینینانوپه روان ښه تاثیر لری سره له دی چي په سختو شرایطو کی ژوند کوی او همدارنګه په عرب کلچرکی. او دوی دا دلیل راوړی چي داډول یو په یو روحی تداوی دروانی روحی ټولنیزو کارونو سره چي په دننه ټولنه کی ترسره کیږی ښه نتیجه ورکوی.

**کلیدی الفاظ:** روحی تداوی، یو په یو روانی روحی ټولنیز مرسته، دتداوی پایله، اشغال شوی فلسطین


Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.

**۵ او ۶. مونږ د ماهرینو دوه تیمونو ته بلنه ورکړه چې د Gaboulaud et.al نشریې باندې خبرې اترې وکړو.** Yoke Rabia, Veit Nagayen Gillam او Ritta Giaceman ویرې لرلي چې فردي طرزالعملونه کیداي شي چې اجتماعی شکایتونو او درواني اعراضو سره د بدمرغی لامل وګرځي کوم چې وروسته د فردي تداوي پواسطه ښه کیږي. دوي د ټولني په سطحه د روحي-ټولنیز اقداماتو طرفداران ؤ.

Susan Prosser او Ahmad Bawaneh د خپل ګزارش په اړوند چې ځنګه ذهني سایکوتراپي باید د فلسطیني شرایطو مطابق عیار او آماده شي؟ حیرانتیا ښودله او د بین فرهنګی سایکوتراپي کارونو په اړوند د مترجمینو رول باندې یې ډیر جدي تاکید کاوه.

۷: اساسات او د ټولني شه والي لپاره روحي-ټولنیز مداخلي درسونه په برما/میانمار کې د Nargis Cylone مداخلو پواسطه تعقیبیږي

---

Michael Paratharayi

روحي-ټولنیز مداخلې په برما/میانمار کې نوي رویدادونه دي. د Nargis Cyclone پواسطه په برما/میانمار کې تعقیب شوي ارزیابي ګانې د کلیوالي روحي-ټولنیز ناخوالو د په ګوته کولو لپاره واضح ضروریات په ډاګه کړي. د موجوده سیاسي-ټولنیز محدودیتونو سره سره غیر دولتي ارګانونه ددغو ناخوالو دبرسیره کولو لپاره په مختلفو طریقوزیار ګاللې. دغه ځایي رپورټ د روحي-ټولنیز مداخلو دوه نمونې تشریح او تحلیلوي. یو د پروژه توجه مکملاً ټولنې او ګروپي مداخلو باندې وه، پداسي حال کې چې بله پروژه په څو طبقه ایزو مداخلو سره د هدف وړفردي او ګروپي مداخلې هم موجودې وې.

دغه روحي-ټولنیز مداخلې یوازې په خپل ځان کافي او مکمل ندې بلکه د نورو پرمختیایي پروګرامونو او د نورو پلي کونکو سره د همکاري په ډګر کې یو اساس جوړولاې شي.

**لیدی الفاظ:** کلیوالي روحي-ټولنیز ،مدغم شویو طریقو، برما/میانمار

---

**۸: د Haitai د زلزلي په مقابل کې روحي-ټولنیز غبرګون: دIOM تجارب:** Marie-Adele Salem, Amal Ataya, Mazen Aboul Hosn, Guglielmo

Shinina دغه د کار د ساحي رپورټ په لنډه توګه د مهاجرینو نړیوال سازمان IOM لخوا په Haitai کې د ۲۰۱۰ کال د جنوری د میاشتي د زلزلې په مقابل کې د چټک روحي-ټولنیز غبرګونونو باندې بحث کوي. او هدف ددې رپورټ د زلزلې د ځینو پېټو جزیاتو تثبیتول دي. دفعالیاتو یو ځایوالي په ملي او بین المؤسسي همکاري، مستقیم مداخلې او ظرفیتونو ارتقایي لیولونو باندې دهایتایانو دود ته په خصوصي پاملرنې سره او عمومي بشري مداخلاتو په اساس توضیح شوي.

**کلیدی الفاظ:** زلزله،هایتی، مهاجرینو نړیوال سازمان، IASC guidelines

---

**۹**: د محا فظینو لپاره تحفظ: د یو پروتوکول په ګوته کوونه یا په ساحه کې د خپل خوښې پروګرامونو جوړښت؟

مجهول الاسم:

یو تعداد لویدیز غیر دولتي موسسې ځینې پروتوکولونه د محافظینو د تحفظ د برابرولو په هدف جوړ کړې دې. لیکونکي، دري روحي-ټولنیز کارکوونکي په آسیایي ممالکو کې یوه داسې د مداخلې طریقه وښودله کوم چط د هر یو پروتوکول په نسبت په محلي شرایطو برابر دې. داکار د یو دوه ورځیني Stress Management ورکشاپ په ترڅ کې کوم چې د ملي او نړیوال ارګانونو د محلي کارکوونکو لپاره پیشنهاد شوي ؤ وښودل شو. د ورکشاپ په پاې کې د ګډونوالو برخورد کې د پام وړ تغیرات راغلي ؤ، پداسي توګه چې پدوي کې تشویش کم او مسترح معلومیدل، او ددوی سستي په داسي یو اعتماد باندې بدل شوي ؤ چې دوې کولاې شي چې ځانونو ته یو نوي راتلونکي جوړکړې، ددې سیمینار پواسطه د یو تعقیبي ناستې په ترڅ کې درې میاشتې وروسته داپه ډاګه شوې چې پورته نتایج پخپل حال دوام لري.

**کلیدی الفاظ:** روحي فشار، روحی ضربه،

---

**۱۰: دکتاب بیا کتنه:** طبي انتروپولوجست (Grace Akello) اوسنی چاپ شوي مطلب کوم چې Cote d'Ivoire د پخواني واړه پوځیانو د ژوند په تجاربو لیکل شوې ده په دقیقه توګه تکرار کړې او د خپل ریسرچ لپاره چې د لري ساتل شوی ماشومانو باندې په شمالی یوګانډا کې شوې، د نورو لاروچارو او تغیراتو لټه کوي.



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.